
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۴/۰۴/۰۲

# ولاړ متون او روانه پوهنه




دا چې ویل کیږي:

»ښځه له ښځې بلاربېدلای شي، خو ماشوم به یې یوازې غوښنه وي او هډوکی به نه لري... یابل ځای وایي: کوم چا په هیندوستان کې خوب لیدلی و، چې په بصرې کې یې له کومې ښځې ماشوم شوی او بله ورځ هغه ښځه راغلې او ماشوم یې له ځان سره راوړی، چې: ها! دا دې هم ماشوم...یا بل څوک دعوا کوي، چې کوم ملا د دوه زره نجونو بکارت کتلی و، یوازې یې دوه پېغلې وې، نورې ټولې خرابې... یا که ویل کیږي، چې روانې اوبه تر بدمخیو نارینه وو ښایسته هلکان خوښوي او ورته رپیږي... یا هم څوک د ایمان د حلاوت له زوره انزال کیږي... او بالاخره باور کیږي، چې زمکه د غوایي پر ښکر ولاړه ده او مچ چې د غوایي په پوزه ورننوځي، نو غویی سر ښوروي او ایسته زلزله کیږي«...

دا هرڅه بې سرچینې خبرې نه دي. خامخا کوم لیکل شوی متن یا د شیخانو رانقل شوی روایت یې ترشا شته .

ستونزه دا نه ده، چې روایتونه سرچینه نه لري، اصلي ربړه دا ده، چې مأخذونه هغه ولاړ او خورا پخواني متون دي، چې د مثبته علومو له نوي کېدو، مختیا، تکامل او پرلپسې تجربي بشپړتیایي بهیر څخه لرې پاتې دي .

پوهنه روانه او نوې کېدونې ده، خو زموږ نانډرۍ پر هغو متونو دي، چې ولاړ (راکد) پاتې دي او نوښت یا نوي کېدل، یا په ورځ کېدل نه یوازې چې نه مني، بلکې بدعت او کفر یې ګڼي .

له قرآن مجید او صحیح احادیثو پرته، چې بېشکه خپل ګروهیز او اخلاقي اصالت لري، نور هغه متون چې په راروسته دویمې تر اوومې هجري پېړۍ پورې تولید شوي دي د تاریخي لویو پېښو له کبله ولاړ پاتې دي، چې روسته به ورته اشاره وشي .

د توحید علم، عقاید، کلام، احکام او د دین اخلاقي بحثونه، چې په قرآن او صحیح احادیثو کې ریښه لري، د خپل ماهیت له مخې یې ثابتوالی لازمي دی. خو تر دې ورهاخوا هرهغه څه چې په طبیعي علومو، ټولنپوهنې، تاریخ، بشرپېژندنې، حقوقو - سیاست، توکمپوهنې، ژبپوهنې، جغرافیا او نورو تجربي علومو پورې اړه لري، که ثابت پاتې شول، مري .

بشریت هرڅومره چې له طبیعت، ټولنې او انساني چارچلند و تاریخي تکامل سره اشنا کیږي، هماغومره نویو علمي پایلو ته رسیږي، چې له دې کبله ګڼې زړې ظاهراً علمي فرضیې یا ناسمې ثابتیږي یا نیمګړې .

دا متون ولې ودرېدل؟

په ۶۱۶ – ۶۱۷ هجري کې د چنګیزخان لښکرې سمرقند و بخارا ته راورسېدلې او په دې توګه د اسلامي تمدن ویجاړول او په وینو رنګول پیل شول .

تر دې مهاله په اسلامي نړۍ کې لاندې علمي حوزې ډېرې مشهورې وې :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

•د دويمې هجري پېړۍ د پای کلونه و، چې په بغداد کې بيت‌الحکمه جوړه شوه. د پوهې و ژباړې دغه مرکز اسلامي نړۍ او ان روسته ټولې متمدني نړۍ ته د علومو د مختيا، پراختيا او رسولو لپاره حياتي ونډه ترسره کړه .همدا راز د بغداد نظاميه مدرسه، چې د نظام الملک په وسيله په ۴۵۹ هجري کې جوړه شوه او د اُم‌المدارس لقب يې و .

•له دويمې هجري پېړۍ څخه د بلخ، بخارا او سمرقند علمي حوزو سر راپورته کړ، د دغو حوزو علمي شهرت دومره و، چې په ۲۴۲ هجري قمري مړ، د بغداد و بصرې قاضي يحيی بن اکثم وويل: په هېڅ ښار کې دومره علما او فضلا ليدل شوي نه دي، لکه په بلخ کې چې شته. بلخ دا مهال د (دارالفقاهة)، (دارالاجتهاد) او (قبةالاسلام) په نومونو يادېده .

•د څلورمې هجري پېړۍ په پای کې د غزنوي سلطان محمود د واکمنۍ پرمهال غزني او د غوريانو د واکمنۍ پرمهال غور هم د اسلامي پوهنو او معارفو – په تېره نجوم او ادبياتو -مرکزونه ول، چې همدوی بيا د اسلامي پوهنو لمن تر لاهور او هيندوستان پورې پراخه کړه.

•د څلورمې هجري پېړۍ په نيمايي (۳۵۹) کې فاطمي واکمنو په مصر کې د الازهر دارالعلوم بنسټ کېښود، چې تر نن پورې د اسلامي علومو او عربي ژبې لوی پوهنتون دی .

•په ۳۶۶ قمري کې د اندلس (اسپانيا) اُموي خليفه الحکم الثانی په سلګونو مدرسې جوړې کړې، د قرطبې د پوهنتون بنسټ کېښودل شو، د هغو بېوزله زدکوونکيو لګښت به خلافت ورکاوه، چې له نورو سيمو درس ته راتلل. په دغو علمي حوزو کې نجونو هم درس لوست. قاضي ابوالفضل عياض بن موسی او ابوالوليد بن رشد غوندې ګڼ نړۍپېژندلي پوهان د همدې علمي حوزې ستوري دي .

•دمشق، بيت المقدس، کوفه او د منځني ختيځ ځينې نور ښارونه هم په دغو پېړيو کې د مشهورو علمي حوزو او مدارسو لرونکي و ...

خو د چنګيز يرغل هرڅه ونړول. هولاکو خان (د چنګيز لمسي) په ۶۵۶ قمري کې بغداد محاصره کړ او تر يوې خونړۍ جګړې روسته يې د عباسيانو روستی خليفه المستعصم بالله عبدالله بن منصور په يوه غالۍ کې ونغښت او د اسونو تر پښو لاندې يې وواژه ( هولاکو ته چا ويلي وو، چې خليفه ديني مقام لري او که وينه يې وبهول شي، مغولي لښکرو ته به مصيبت پيښ کړي) ، ځينې وايي په اوبو کې يې ډوب کړ او په دې توګه يې د اسلامي تمدن او علومو طلايي دوران پای ته ورساوه.

مغولو د نورو اسلامي ښارونو په شان دارالخلافة بغداد هم ونړاوه او لسګونه زره انسانان يې ووژل .

د مغولو ټَکي له بلخ و بخارا رانيولې تر بغداد پورې ټول علمي مراکز وسيزل. ويل کيږي، چې د بلخ کتابتون يې د امو سيند کې ډوب کړ، څو ورځې اوبه د کتابونو د سياهۍ له رنګه تورې بهېدې .

تر دې روسته يوازې تر لنډې مودې د اسپانيا په اُموي او تر اوږدې مودې د مصر واکمنيو او بيا د توركيې (ختيځ روم) په عثماني ټولواکۍ کې علومو ته پام کېده او په هيندوستان کې د تصوف او ادبياتو يوه بډايه دوره راپيل شوه، چې تر ډېره له هيندي عرفان سره ګډ اسلامي تصوف ته يې پام و، چې د نفس په ځپلو يې ټينګار کاوه. دا هم د انګريزانو له راتللو سره راونړول شوه .

ديوبند مدرسه له خپل ټول فقهي اهميت سره سره د انګريزانو د لاسوهنو او سياسي لوبو له امله د عصري علومو له رڼا بېبرخې وساتل شوه. تر دې بريده، چې روسته روسته يې له عصري علومو سره د تکفير تر بريده مخالفت راپيل کړ .

دلته د مړژواندي تصوف ځينو مهمو سلسلو هم تر هرڅه وړاندې له فيلوسوفي سره دوښمني کوله. هيڅوک په دې نه غږېدل، چې فيلوسوفي پخپله علم نه دی، بلکې له علومو سره د انسان مينه ده. فيلوسوفي د داسې پوښتنو او ځوابونو هڅه ده، چې پربنسټ يې پوهنې و تجربې يوې منطقي پايلې ته رسيږي. په دې توګه له فيلوسوفي سره دوښمني له نورو طبيعي او بشري پوهنو سره په دوښمني واوښته .

د تاريخي تشې او فترت تر زمانې پورې په اسلامي قلمرو کې علمي حوزو دوه ځانګړنې درلودې :

۱ـ تر دې مهاله پوهنې ډېرې ځانګيزې شوې نه وې، نصاب داسې و، چې تر صرف و نحو روسته به فقهي کتابونه، تفسير، حديث، سيرت، کلام، منطق، علم الانصاب، تاريخ (اخبار)، ميراث، رياضيات ( د هندسې او موسيقي په ګډون)، نجوم، طب او يوڅه کيميا لوستل کېدل .

۲ -په فقهي مباحثو کې د اجتهاد و قياس لپاره ځينو طبيعي علومو ته اړتيا وه، د بېلګې په توګه د قبلې د جهت موندلو او د لمانځه د وخت و اختر و روژې د معلومولو لپاره جغرافيې او نجوم ته اړتيا وه. د حيض و نفاس و له فقهي احکامو سره د ناروغيو د اړيکو لپاره يوڅه بيولوژي و طب ته اړتيا وه .د ميراث د علم لپاره حساب و رياضياتو ته، د عقايدو او کلامي بحثونو لپاره منطق ته اړتيا وه او د سيرت، انبياو، اصحابو او تابعينو پېژندلو او له اسرائيلياتو د ځانساتنې لپاره علم الانصاب او تاريخ ته اړتيا پېښېده .

قرآن مجيد، چې پخپله د بلاغت تر ټولو عالي معجزه ده، ځکه خو يې په کنايو، استعارو، تشبيهاتو او رموزو د پوهېدو او سم تفسير لپاره د صرف و نحوې تر څنګ بلاغي علوم او معاني هم لوستل کېدل .

په دې توګه د فقهي بحثونو پوهانو به د احکامو د تدوين لپاره يوڅه دغه نور علوم هم زده کول .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

جګړو او خونړيو سياسي بدلونونو په اسلامي جغرافيه کې مهمې علمي حوزې ړنګې کړې او په دې توګه يې له عقايدو او فقهي بحثونو سره د طبيعي و بشري پوهنو موازي خوځښت مختل او ګډوډ کړ .
يادو پېښو په اسلامي نړۍ کې له هغو فقهي احکامو او بنسټي عقايدو پرته ( چې په قرآن او حديثو کې يې سرچينې لرلې) د نورو علومو مختګ و پراختيا يا ودروله او يا بيخي پڅه کړه. حکمت، طب، رياضيات، فيزيک، کيميا، نجوم، هنر، تاريخ، موسيقي او نور علوم له زدکړو او تجربو پاتې شول او له هغه ځايه، چې د دغو علومو ماهيت نوی کېدونی او د تجربو پربنسټ د ودې وړ و، نو له ولاړو فقهي متونو سره يې واټن ورځ په ورځ زياتېده، داسې ورځې ته راورسېدل، چې متحجرو فقيهانو د ناديني پوهنو په حيث ښه نه ګڼل، ان چې لا تکفيرول يې هم .
په عثماني خلافت کې د دې لپاره چې د ثابتو فقهي او عدلي احکامو حساب له نورو بدليدونکيو پوهنو څخه بېل شي، په کال ۱۲۹۳ کې تر اووه کاله څېړنو روسته د مجلةالاحکام العدليه تدوين ترسره شو .
په دې بڼه د فقهي احکامو يوه مجموعه رامنځ ته شوه، چې حکمونه يې ثابت دي او ښايي له وخت سره يې يوازې ځينې فروعات نوښت و بدلون وغواړي .
په اسلامي نړۍ کې د جمود، رکود او فترة يوې اوږدې دورې پر مهال په اروپا کې رېنېسانس پيل شوی و. د بيا زېږدا يا بيا ويښېدا د غې زمانې تر ټولو لويه ځانګړنه هنري - ايستيتيکه وده، علمي انقلاب، او د تکنولوژي رامنځته کېدل و .
دا به نه هېروو چې د اروپايي رېنېسانس او علمي انقلاب اصلي سرچينه د اسلامی پوهانو په وسيله د يوناني اثارو د ژباړو او له هغو سره د اسلامي نړۍ د علمي برياوو د پايلو بېرته ورتلل وو. فارابی، خوارزمي، ابوريحان بيروني، رازي، بلخي، ابن سينا، ابن رشد او نور لسګونه پوهان د دغه لېږد ځلانده څېرې وې .
څو پرلپسې پېړۍ په اروپا کې نوې علمي تجربې وشوې، د ځمکې د مرکزيت تيوري د کوپرنيک و ګاليلو په وسيله ونړول شوه، اروپايي پوهان او هنرمندان د کليسا و کشيش د تکفير په وړاندې ودرېدل. ځينې يې په ژوندوني وسيزل شول، تبعيد، زنداني و مجازات شول، خو له کښليو توبه‌ليکونو سره سره يې خلکو ته وويل: « موږ به توبه وباسو، خو زموږ توبه دا حقيقت بدلولای نه شي، چې ځمکه پر لمر راڅرخي«.
په اسلامي نړۍ کې اووه – اته پېړۍ دا جرئت چا ونه کړلای شو او په دې توګه د دويمې و درېيمې هجري پېړۍ پرمهال ولاړ پاتې شوي روايتونه لا هم حاکم وو، لاهم ځمکه د غوايي پر ښکر سپره وه او ګواکې د ښځې و ښځې له جنسي اړيکي څخه بې هډوکو ماشوم زېږېدلای شو .که څه هم ساينس ويل، چې د نارينه و ښځينه له سپرم و اووم (هګۍ) پرته لقاح کېدلای نه شي .
سم کار خو دا و، چې اسلامپوهانو د يوه عقيدوي – فقهي حکم په توګه يوازې پر دې بسياينه کړې وای، چې د ښځينه وو تر منځ جنسي اړيکې د اصلي نصوصو ( قرآن و حديث) له مخې حرامې دي. بس .
دا چې له دې ماشوم پيدا کيږي، که نه؟ ښايي دا بحث يې بيولوژي ته پرېښې وای. دا يو مثال دی، چې موږ ته د پوهنو د ماهيوي بېلتون منطقي کرښه راښيي. داسې زرګونه روايتونه شته، چې لا هم د دويمې و درېيمې هجري پېړيو په ولاړو پاتې شويو متونو کې ريښې لري او که نن يې څوک ونه مني تکفيريږي، حال دا چې خورا ساده ساينسي تجربې يې نه مني .
دا کيسه هغه وخت لا ستونزمنه شوه، چې د دويمې و درېيمې هجري پېړيو د ولاړو پاتې شويو متونو پر بنسټ روايت شوي غيرفقهي حکمونه له سياست، حکومتولۍ، اقتصاد، ټولنيز سمون او نورو دنيوي ژوند چارو سره ګډ شول .
ټولنې د نړيوالو علمي پرمختګونو له بهير سره سم مخورړاندې زور کاوه خو ولاړپاتې متونو او احکامو شاته کشول. ارتجاع يعني همدا.
مطلق اکثريت اسلامي هوښيارو هېوادونو دا ستونزه حل کړه. له قرآن و حديثو رااخيستل شوي هغه اساسات يې، چې په عقايدو او عدلي فقهي پورې مربوط ول، بېل کړل. خو د ژوند نورې ټولې برخې يې د نوي‌کېدونکيو تجربي علومو له پرمختګ سره ملګري کړل. ساينس و تکنولوژي يې ومنله او د خپلې پياوړتيا لپاره يې وکاروله. ټول طبيعي او بشري علوم يې نه يوازې له تکفير څخه وژغورل، بلکې د يوه مهم اصل په توګه يې د اسلامي اقتدار بنسټونه وګڼل .
هوښيارو مسلمانو ملتونو وويل: توحيد و رسالت اصل دي، بدلېدلای نه شي. انسانوژنه، غلا، دروغ... لويې ګناه‌وې دي او بايد له اسلامي احکامو سره سم مجازات شي. خو طب، بيولوژي، فيزيک، سياست، اقتصاد، د نوي عصر له غوښتنو سره سم تقنين، اروپوهنه، هنر، ادبيات، بشرپوهنه، رياضيات، نجوم... سَيال(جاري) ، بدليدونکي، نوي کېدونکي او روان علوم دي، دا د دويمې و درېيمې هجري پېړۍ په متونو کې ولاړ پاتېدلای نه‌شي .
د عقايدو او فقهي احکامو په برخه کې د امام ابوحنيفه او نورو ائمه‌وو نظريات معتبر دي. خو د نجوم په برخه کې نور نو د عبدالرحمن بن احمد بن يونس صدفي د (الزيج‌الکبير الحاکمي) کتاب د نننيو کيهاني علومو پوښتنو ته ځواب ويلای نه شي .دا بيخي سمه ده، چې د ابن يونس الزيج په خپل وخت کې يو علمي شهکار و، خو نن بايد د ستيفن ويليام هاوکينګ د کيهاني تورو ګرداړو Black Holesنظريات وڅېړو او د اتومي فيزيک په برخه کې د خپل دکتور محمد تنها خبرې واورو.

#ويښتيا، روښانتيا او بدلون


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ